مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۱/۲۵

# غزل

خیر دی چې وینه مې توېږي د وطن په لار کې
ځان چې قربان په وطن نه شي هغه ځان به څه کړم

د سولې ګل نه یم محرومه ګلستان به څه کړم
چې خپلو وینو کې غرقیږم ستا جهان به څه کړم

ژوندون مې نشته په نامه زه د ژوندي یادیږم
اوس پس له مرګه دا ستا مینه او پرسان به څه کړم

پښتون وجود مې په ځلورو ټوټو وویشل شـو
د خپل ټوټه ټوټه وجود نوم او نښان به څه کړم

رقیبه ! مه کړه د هجران داسې ترخې خبرې
په مینه سوی تېتر خوښ یم ستا درمان به څه کړم

خیر دی چې وینه مې توېږي د وطن په لار کې
ځان چې قربان په وطن نه شي هغه ځان به څه کړم

زه پسرلی که ژوند لرم نو بس پښتو به ګالم

چې پښتو نه ګالي په هغسې افغان به څه کړم

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!